سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۵/۳۱

# تـــــــــوپک!!

بـل جـوړ کړی دا تـوپک دی، خو زما په اوړو سور دی

ما په ده بانـدی وران کړی، خپل تاتوبی او خپل کور دی

د بل چانه مې پـلورلـي، د خـپل عـقـل پـه بـدل کی

په همده مې دی وژلی، خپل عزیز او سکه ورور دی

ناپوهـي راتـه پـه غـوږ کی، د تـوپک سـندری وایــی

ما په ده بانــدی بایللی، د شعور او مینی زور دی

را وتـلـــي یم میدان ته ، د قلم سره مې جنګ دی

په کتاب باندی یرغل دی، په ښونځي باندی بل اور دی

پــوروړي یــم د خـپـلو، پـوروړی د پـــردو یـــم

یم قرضــدار د بل د ویني، په بل پوری زما پور دی

کلیوال مــی تـول تباه دی، د همدی توپک د لاسه

چی زما د عقل ځلی، را لـویدلی او نسکور دی

فبروری/۲۰۱۴ تورنتو ـ کانادا